AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۴/۰۷/۲۶

# د یهودو عادلانه جګړې

## (اووه څلوېښتمه برخه)



(د اورشليم د لومړي معبد سوځولو خيالي انځور | د فرانچسکو هایز اثر، ۱۸۶۷ز، کال)

### د اسراييلو سزاګانې (۱)

### د اورشليم ښار نيول او د يهوه خدای د کور (معبد) سوځول

په اورشليم کې د اسراييلو معبد (چې دوی يې د يهوه خدای کور بولي) د تاريخ په اوږدو کې څو ځلې لوټ او دوه ځلې ويجاړ شوی دی چې يو ځل د بابليانو لخوا په (۵۸۷ مخزيږديز) کال کې وسوځول شو او بل ځل د روميانو لخوا په (۷۰ زيږديز) کال کې ونړول شو چې اوس‌مهال يې يوازې يو غربي دېوال پاتې دی چې د اسراييلو قبله ده، اسراييل د خپل وران شوي معبد، د پاتې دېوال پر وړاندې خپلې افسانې وريادوي او د معبد پر ويجاړۍ اوښکې تويوي چې له دې امله هغه دېوال د ژړا (ندبه)[1] دېوال په نوم ياديږي.
د سليمان معبد نه يوازې د پرديو لخوا لوټل شوی، بلکې يو ځل د اسراييل شمالي پاچاهۍ پاچا (يهو آش) لخوا هم لوټ شوی دی، د يهودا اتم پاچا (امصيا) د اسراييل له پاچا يهو آش سره جګړه وکړه، يهو آش امصيا ته ماتې ورکړه او هغه

[1]: ندبه د ژړا او زاريو مانا لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يي ژوندي ونيو، **د اورشليم ښار يي لوټ کړ، د يهوه خدای د کور او پاچاهۍ مانۍ ټوله شتمني يي له ځان سره د اسراييل پلازميني سامرې ته يوړه.**[2]

د اسراييلو په شمال او سوېل کي پنځه ځواکمني امپراتورۍ واکمني وې چي په شمال کې: آشوريان، بابليان، پارسيان، مقدونيان او روميانو امپراتورۍ د وخت په تېرېدو سره يو په بله پسي رامنځ ته شوي دي او په جنوب کې د مصر امپراتوري ځای‌پرځای وه چي د اسراييلو په څېر کوچني دولتونه د دوی پر وړاندي دومره کمزوري وو **لکه د هاتي (پيل) پر وړاندي چي موږک کمزوری دی** خو اسراييلو ته چي د خپلي ناوړه ګروهي له امله ځانونه د چرګانو[3] په څېر ځواکمن او غښتلي ښکاريدل نو تل د ځواکمنو امپراتورانو پر وړاندي ياغي شوي او د باج له ورکولو يي ډډه کړي ده چي له امله يي هر ځل ځپل شوي او له لويو تباهيو سره مخ شوي دي.
سره له دې چي د اسراييلو قومي خدای څو ځله ويلي وو چي زه به د خپل کور او اورشليم ښار ساتنه کوم خو ويې نه شول کړای اورشليم ښار او خپل کور له لوټ تالان، سوځولو او ورانولو وساتي او دا پلمه کوي چي د خپل قوم اسراييلو د ګناهونو له امله يي خپل ښار او کور پهخپله وران کړي دي. *(چي په دې پيچلي موضوع به په راتلونکو ليکنو کې مالومات وړاندې شي.)*
د يهودا د پلازميني اورشليم او د اسراييلو د معبد ورانول د دوی د سرکښيو او بې‌ځايه غرور له کبله ترسره شوي دي، داسي چي اسراييلو په بېلابېلو زمانو کي پهخپلو ژمنو او تړونونو (چي مصريانو، اشوريانو، بابليانو او روميانو ته يي د باج ورکول منلي وو) عمل نه کاوه او څو ځلي يي د مصر، آشور، بابل او روم ځواکمنو امپراتوريو پر وړاندي بغاوتونه وکړل او هغوی يي اړ کړل چي پر دوی يرغلونه وکړي.

د سليمان معبد ۴۲۴ کاله ولاړ ؤ چي د لومړي ځل لپاره د يهودا پاچا رحبعام د سليمان د زوی د پاچاهۍ پر مهال، د مصر پاچا (شيشق) لخوا لوټ کړای شو.[4] اسراييلي منابع وايي چي د «رحبعام د پاچاهۍ په پنځم کال [چي ۹۲۷مخزيږديز، کال کيږي][5] د مصر پاچا شيشق په اورشليم بريد وکړ او اورشليم يي لاندي کړ، **هغه د يهوه خدای د کور او د پاچاهۍ مانۍ شتمني (خزانې) لوټ کړې او ټول هغه د سرو زرو ډالونه چي سليمان جوړ کړي وو له ځان سره په غنيمت يووړل.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۱۴/۲۵-۲۶)

په ۹۲۵مخزيږديز کال کي اورشليم د آشور او مصر ترمنځ د جګړو ډګر ګرځيدلی ؤ، آشوريان اسراييلو ته ننوتل او يهودا يي باج ورکولو ته اړ کړه.[6] د آشور امپراتور فول (چي په تغلت فلاسر مشهور ؤ) د يهودا پاچا آحاز هغه ته باج ورکاوه، (۷۳۲مخزيږديز) تغلت فلاسر د آحاز په غوښتنه پر سوريه بريد وکړ، فلاسر يهودا ته راغی چي «د آحاز پاچا لپاره په خواشيني او سر دردۍ بدل شو، آحاز چي هر څومره **د يهوه خدای د کور سره او سپين زر او د سلطنتي مانۍ او د قومي مشرانو خزانې هغه ته ورکړې څه ګټه يي ونه کړه.»** (د تاريخونو دويم کتاب کتاب:۲۸/۲۰-۲۱)

د يهودا پاچا آحاز له مړيني وروسته د هغه زوی حزقيا د يهودا پاچا شو. (۷۲۶تر۶۹۸مخزيږديز) د آشور امپراتور سنحاريب له دې امله پر يهودا دوه ځله بريد وکړ چي حزقيا پاچا آشور ته له باج ورکولو ډډه وکړه، آشوريانو اورشليم کلابند کړ «د آشور د پاچا سنحاريب [ځواکونو] د يهودا ټول ديوال‌لرونکي ښارونه کلابند او هغه يي ونيول. حزقيا پاچا سنحاريب ته چي په لاکيش کي ځای‌پرځای ؤ داسي پيغام واستاوه: ما تېروتنه کړې ده، زما له هېواده په شا شه او خپل هېواد ته ستون شه، ته چي څومره باج وغواړې دربه‌يي کړم. په ځواب کي د آشور پاچا لس زره کيلو سپين زر او د زر کيلو سرو زرو غوښتنه وکړه. **حزقيال د دغو سرو سپينو زرو د تيارولو په موخه د يهوه خدای د کور ټول سپين‌زر او د پاچاهي مانۍ خزانې يوه ځای کړې، تر دې چي د خدای د کور د دروازو او مټو (ستنو) طلايي پوښونه يي هم وشکول او د آشور پاچا ته يي وليږل.»** (د پاچاهانو دويم کتاب کتاب:۱۸/۱۳تر۱۶پوري)

حزقيا پاچا دويم ځل بيا آشوريانو ته له باج ورکولو ډډه وکړه او ياغي شو، هغه وو چي د آشور پاچا سنحاريب پر يهودا بريد وکړ او اورشليم يي کلابند کړ، لږ وروسته د آشور پاچا، د خپلو کورنيو شخړو له امله د اورشليم کلابندي پای ته

---

[2]: د پاچاهانو دويم کتاب:۱۴/۱۴.
[3]: کله چي چرګ د بام پر سر ګرځي نو ډېر په احتياط ګامونه پورته کوي، فکر کوي چي دومره دروند دی چي د بام سر وريسي وران نه شي.
[4]: مستر هاکس: قاموس کتاب مقدس.
[5]: مستر هاکس: قاموس کتاب مقدس.. ۵۴۴مخ.
[6]: هاشم رضا: اديان بزرګ جهان:۴۰۴مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څېر و لولئ

ورسوله او خپل هېواد ته ستون شو «چې په پای کې د خپلو زامنو لخوا د عبادت پر مهال ووژل شو خو د هغه بل زوی (اسرحدون) چې د پلار په وژلو کې يې لاس نه درلود، د خپلو پلاروژونکو (پدرکش) ورونو پر وړاندې پورته شو او د سلطنت تاج او تخت يې خپل کړل.»[7]
خو د اسراييلو په افسانو کې راغلي چې سنحاريب او ځواکونو يې له دې امله د اورشليم کلابندي پرېښوده چې د آشور ځواکونه د يهوه خدای لخوا ووژل شول چې د وژل شويو کسانو شمېر يوسلو پنځه اتيا زره کسانو ته رسيده.[8]

د يهودا پاچاهي چې د خپلو ګاونډيانو په پرتله ډېره کمزوري پاچاهي وه چې کله به يې له مصر سره دوستي کوله او کله له شمال، آشور يا بابليانو سره، که يو لوري ته به يې باج ورکاوه او په دوستي کې به ورسره پاتې شو نو د بل لوري سره به له دې امله په دښمني ښکېل ؤ چې مصر او آشور يا بابل په خپلو کې سختې دښمني درلوده، په دې هکله ارميا نبي (د اسراييلو د خيانت پايله) تر سرليک لاندې ليکي چې «د شمال پياوړي سرتيري د غريدونکو زمريانو په څېر د اسراييلو پر لور رادرومي چې هغه وران او ښارونه وسوځوي او له خاورو سره يې خاورې کړي. د مصر ځواکونه هم د هغه بر خلاف پورته شوي دي له خپلو ښارونو (ممفيس) او (تحفنيس) څخه رادرومي چې د اسراييلو لويې او ځواکمنې وځپي، ای اورشليمه! ته پهخپله د دغې بلا سبب شوی يې چې پر تا راروانه ده، کله چې يهوه خدای غوښتل لارښوونه درته وکړي، سرغړونه دې وکړه. لوی او ځواکمن خدای يهوه وايي: **له مصر او آشور سره اتحاد څه ګټه درته وکړه؟ ستا خپل شرارت او ګناه تا ته سزا درکوي... .»** (د ارميا کتاب:۲/۱۵تر۱۹پورې)

د اسراييلو خدای يهوه خپل غوره کړي او سپېڅلي قوم ته د دوی د سرغړونو او ګناهونو له امله ډول، ډول نصيحتونه، سپکې‌سپورې، ګواښونه او ګوتڅنډنې وکړې، تر دې چې يهوه د يو بې‌ځواکه او اړ انسان په څېر خپل قوم ته زارۍ هم وکړې[9] خو اسراييلو چې څه خوښه وه، په هغه لاره روان وو چې په پای کې يهوه خدای اړ شو خپل سپېڅلي او محبوب قوم ته شا کړي او د يو بې وسه انسان په څېر خپله کورنۍ او خپل کور د بابل امپراتور (بختنصر) ته پرېږدي.

د بابل امپراتوري (چې د آشوريانو د امپراتورۍ ځای‌ناستې وه) بختنصر د يهو ياقيم د پاچاهۍ پر مهال په اورشليم بريد وکړ، يهو ياقيم يې باج ورکولو ته اړ کړ خو درې کاله وروسته هغه ياغي شو، امپراتور بختنصر، دويم ځل بيا په اورشليم بريد وکړ، اورشليم يې لاندې کړ، **يهو ياقيم يې لاس ترلی بابل ته يوړ، بختنصر د سليمان له معبد څخه ځينې لوښيه توکي بابل ته يوړل.**

ارميا نبي د يهو ياقيم پاچا د برخليک په هکله داسې وړاندوينه کړې وه:«... ای يهو ياقيم پاچا، د يوشيا زويه! ستا له مرګ وروسته به ستا لپاره څوک غمرازي ونه کړي، تر دې چې ستا خپله کورنۍ به هم ستا لپاره ماتم ونه کړي، ستا خپل قوم به هم ستا مرګ ته اهميت ورنه کړي، **ستا مړی به له اورشليم څخه په کش‌کولو، کش‌کولو، د مړه شوي خره په څېر بهر وغورځوي.»** (ارميا:۲۲/۱۸-۱۹)
د بابل امپراتور بختنصر د يهو ياقيم زوی يهو ياکين د پاچاهۍ پر مهال په اورشليم باندې د درېيم ځل لپاره، د باج نه ورکولو له امله بريد وکړ، د اورشليم ښار د کلابندۍ پر مهال بختنصر شخصاً اورشليم ته راورسيد، يهو ياکين او نور تول لوړپوړي چارواکي تسليم شول، **بختنصر د يهوه خدای د کور لوړ بيه توکي او د پاچاهۍ مانۍ شتمنۍ بابل ته يوړه او د يهودا پاچا يهو ياکين او نور لس زره اسراييليان يې بابل ته تبعيد کړل، يهو ياکين يې بندي** او پر ځای يې د هغه کاکا صدقيا د يهودا د پاچا په توګه وټاکه. (د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ د ليکنو ۴۴مه برخه.)
صدقيا په اورشليم کې د يهودو وروستنی پاچا ؤ، نوموړی د بابل د امپراتور بختنصر لخوا د يهودا د پاچا په توګه ټاکل شوی ؤ چې هر کال يې بابل ته ټاکل شوی باج (جزيه) ورکوله. «که څه هم صدقيا د بابل پاچا نبوکدنصر ته د يهوه خدای په نوم د وفادارۍ او صداقت قسمونه کړي وو خو صدقيا د هغه پر وړاندې پورته شو، صدقيا په سختۍ سره خپلې کړنلارې ته دوام ورکړ، ويې نه غوښتل اطاعت وکړي او د اسراييلو خدای يهوه پر لور وګرځي.» (د تاريخونو دويم کتاب:۱۳/۳۶)

---

7: د پاچاهانو دويم کتاب:۱۹/۳۷.؛ ويل دورانت: تاريخ تمدن. ۲۲۷مخ.
8:د پاچاهانو دويم کتاب:۱۹/۳۵.
9:«ای د اسراييلو قومه! ولې ستاسو پلرونو له ما زړه‌توري شول؟ د دوی په حق کې مې کومه ناغيري کړې ده چې له ما نه يې مخ واړاوه او ناپوهه شول؟ په حماقت اخته شول.» (ارميا:۲/۴-۵)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څېر و لولئ



د صدقيا د سترګو پر وړاندې د هغه

د بابل امپراتور د صدقيا د سرغړاوي او ياغي‌توب له امله اړ شو پر اورشليم باندې د ځلورم ځل لپاره بريد وکړي، د بابل سرتېرو اورشليم کلابند کړ چې څه موده وروسته د مصر ځواکونه د يهودا سوېلي سيمو ته ورسېدل چې د بابل له ځواکونو سره جګړه وکړي او د اورشليم کلابندي ماته کړي.
نو دا مهال د يهودا پاچا صدقيا ارميا نبي ته خپل کسان ولېږل چې د راتونکو پېښو مالومات ورکړي... «کله چې د مصر سرتيري د يهودا جنوب ته ورسېدل چې اورشليم د بابلي سرتېرو له کلابندۍ آزاد کړي نو د بابل سرتيرو د اورشليم له کلابندۍ لاس واخيست او له مصريانو سره د جګړې لپاره وروړاندې شول.
ارميا وايي چې يهوه خدای ما ته وويل چې زما لخوا د پاچا راليږل شويو کسانو ته ووايه:... هغوی دې صدقيا ته ووايي چې د مصر سرتيري چې ستاسو مرستې ته راغلي دي، مصر ته به په شا شي او بابليان به بيا راشي چې په دې ښار بريد وکړي، **هغه به لاندې کړي او وبه يې سوځوي، ځان مه غولوئ، فکر مه کوئ چې بابليان به بيا راونه ګرځي، هغوی به دايمن راستانه شي... .»** (ارميا:۳۷/۵تر۹پورې)

«صدقيا د بابل پاچا پر وړاندې ياغي شو، هغه وو چې د بابل پاچا نبوکدنصر له خپلو ټولو ځواکونو سره د اورشليم پر لور وخوځيد او د صدقيا د پاچاهۍ پر نهم کال د لسمې مياشتې پر لسمه نېټه يې اورشليم کلابند کړ، دغه کلابندي د صدقيا د پاچاهۍ تر يوولسم کال پورې دوام وکړ[10] او د همدې کال د څلورمې مياشتې په نهمه نېټه په ښار کې [د ننه] **داسې قحطي راغله چې خلکو خواړه نه درلودل نو په هغه شپه صدقيا پاچا او ټولو عسکرو د ښار دېوال سورې کړ، له هغې دروازې چې د دوو کلاګانو په منځ کې د پاچا باغ ته نږدې وه، د اردن درې پر لورې وتښتېدل،** بابلي سرتېرو چې ښار يې کلابند کړی ؤ، په پاچا پسې ولاړل او د اريحا په دښته کې ونيول شو، ټول ورسره کسان هرې خوا ته وتښتېدل، بابلي سرتېرو صدقيا ربلې (ربله) ته بوتلو او د بابل پاچا هغه محاکمه او محکوم کړ، **د صدقيا زامن يې د هغه د سترګو پر وړاندې ووژل او د صدقيا سترګې يې وايستلې، هغه يې په ځنځيرونو تړلی بابل ته واستاوه.»**[11] او د ژوند تر پايه په بابل کې په زندان کې وساتل شو. (ارميا:۵۲/۱۱)

«... د بابل د پوځ قوماندان او د پاچا سلاکار، (نبوزرادان) اورشليم ته وردننه شو او **د يهوه خدای کور (معبد)، د پاچا ماڼۍ او د ښار ټول لوی کورونه يې وسوځول، د هغه پوځيانو د ښار دېوالونه وران کړل،** بيا يې يو شمېر د يهودا بې وزله اوسېدونکي او هغوی چې په اورشليم کې ژوندي پاتې وو او هغه کسان چې د صدقيا پاچا خلاف شوي وو او د بابليانو خوا يې نيولې وه، په ښار کې له پاتې صنعتکارانو سره يو ځای بابل ته تبعيد کړل. يوازې يو شمېر بېوزله کسان يې د کرهنې او باغدارۍ لپاره پرېښودل، بابليانو، دوه د ژيړو (برنزو) ستنې (متې) چې د يهوه خدای د کور په دروازه کې ولاړې وې او له ژيړو څخه جوړ شوی ډنډ او د ډنډ لاندې له ژيړو جوړې شوي غواګانې له ځان سره بابل ته يوورې. نبوزرادان له ژيړو جوړ شوي ټول لوی او کوچني ديګونه او د خاورې [ايرو] ايستونکي (چې د قربانځای لپاره کارول کېدل)، امبورونه، کاشوغې، کاسې او د يهوه خدای د کور نور ټول له ژيړو جوړ شوي لوښي له ځان سره يوورل. هغه ځراغونه ډيوټونه، جامونه او د سرو او سپينو زرو کاسې هم له ځان سره يوورې، د هغو دوو ستنو، د ډنډ او د ډنډ لاندې د دوولسو غواګانو وزن [چې له ژيړو جوړې شوي وې] دومره دروند ؤ چې پورته کول يې ناشوني وو، دا ټول توکي د پاچا سليمان پر مهال جوړ شوي وو، د هرې ستنې لوړوالی نږدې اته متره او پنډوالی يې شاوخوا پنځه نيم متره ؤ... په همدې وخت کې نبوزرادان، د بابل د پوځ قوماندان، په ښار کې پټ شوي دا کسان هم وموندل:

---

[10]: د اورشليم ښار اتلس مياشتې د بابليانو لخوا کلابند ؤ. بل ځای وايي چې اورشليم دوه کاله محاصره ؤ.
[11]: د پاچاهانو دويم کتاب:۲۵/۱تر۷پورې؛ د تاريخونو دويم کتاب:۳۶/۱۳-۲۱؛ د ارميا کتاب:۵۲/۳-۱۱)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لوی کاهن سریا او د هغه معاون صفنیا، درې نفره د یهوه خدای د کور ساتونکي، یو تن د پوځ قوماندان او د پاچا اووه تنه سلاکاران، د یهودا د پوځ کاتب او شپېته تنه نور مهم کسان، نبوزرادان ونیول او هغوی یې ربلې (ربله) ته د بابل پاچا ته ورولېږل، **پاچا هغوی ټول ووژل** چې په دې توګه یهودان بابل ته تبعید شول. د نبوکدنصر د پاچاهۍ په اووم کال، ۳،۰۲۳ کسان بابل ته تبعید شول، یوولس کاله وروسته، هغه ۸۳۲ نور کسان هم ونیول او بابل ته یې بوتلل. نبوزرادان د بابل پوځ قوماندان، پنځه کاله وروسته، ۷۴۵ نور کسان تبعید کړل چې په دې توګه، ټول ۴،۶۰۰(څلور زره شپږ سوه) کسان بابل ته تبعید شول.»[12] (۵۸۷ مخزیږدیز کال)
کله چې نبوکدنصر اورشلیم لاندې کړ نو ارمیا نبي چې په زندان کې د صدقیا پاچا لخوا په دې تور بندي شوی ؤ چې د بابل د امپراتورۍ لخوا د صدقیا د پاچاهۍ د سقوط وړاندوینې یې کړې وې، نبوکدنصر هغه له زندانه خوشې کړ له هغه سره یې ښه وکړل او په بابل کې استوګن شو خو ارمیا د خپل قوم له اسیرو اسراییلو سره استوګنه غوره کړه. په ۵۸۶مخزیږدیز کال کې ارمیا مصر ته ولېږل شو او تر خپل مرګ پورې یې نبوت او نصیحت کاوه ... .» (مستر هاکس: قاموس کتاب مقدس: ۴۱مخ؛ جان‌بي ناس: تاریخ جامع ادیان. فارسي ژباړه: علي اصغر حکمت. ۵۲۵مخ)



(د غزې پر بې‌دفاع خلکو، د اسراییلي صهیونستانو بمبارۍ دوام لري.)

نېټه:۱۴۰۳/۴/۵ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

[12]: د ارمیا کتاب:۱۲/۵۲تر۳۰پورې او۳۹څپرکی/۱تر۱۰پورې؛ د تاریخونو دوېم کتاب:۱۷/۳۵تر۲۰پورې او د پاچاهانو دویم کتاب:۹/۲۵تر۱۲پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ